# AN OVERVIEW OF KHUSHAL KHAN KHATTAK SCHOLASTIC, RELIGIOUS AND REALISTIC POETRY

Dr. Shukriya Qadir[1]

د خوشحال خان خټک

دعلمي،مذهبي او حقيقي شاعرۍ يو اجمالي جاج

**_Abstract_**

*The most valued and respected name in Pashto poetry is Khushal Khan Khattak. He brought Pashto poetry to its peak in his era. He not only fashions Pashto poetry technically equal to other languages but also enriched it intellectually. In this way, Khushal Khan introduced Pashto poetry to modern trends and brand new topics, which did not exist before Khushal Khan. He has summed up these topics in his poetry in a wonderful way. As a result, new dimensions have emerged in his poetry. This article has examined the aspects of Khushal Khan's poetry from different angles and sheds light on his intellectual, religious, and realistic aspects from a research point of view.*

**Key Word:**

Scholastic, Religious and Realistic Poetry

---

[1] Assistant Professor, Department of Pashtu, Abdul Wali Khan University, Mardan

خوشحال خان خټک (1613ء–1691ء) د یوشاعرادیب سرهسره سیاستدان، سپاهي، سردار، سرلښکر، جنګیالے، توریالے، طبیب، ښکاري اوسیږلانے هم وه. د خوشحال خن خټک په ژوند او فن ډیر څه لیکلے شي خو په دې مختصره مطالعه کښې ژوند او فن په هر اړخ لیکل ممکن نۀ دي. ځکه نودلته دهغوي د علمي،مذهبي او حقیقي شاعرئ په حقله د یو اجمالي جاج اخستلو کوشش او جسارت کووم . دخوشحال باباعلمي، مذهبي او حقیقي شاعري د هغه د ژوند ائینه داره ده. هغه په خپله د خپل خالق د احکاماتو نه خبر وۀ،د قرآن او حدیث عالم وۀهغه په خپله شاعرئ کښې ځائے په ځاے د مذهب او حقیقت تبلیغ کړے دے. لکه نامتو ادیب حیران خټک چې لیکي .

'' د خوشحال بابا د کلام او ژوند د مطالعې نه پس په دې حقیقت کښې هیڅ شک پاتې نه شي، چې هغه د سوچه او صفا شریعت قائل وه. په دې لړ کښې ئې کمے یا زیاتے لوے ګناه ګڼلو. هغه انساني ذهن او صلاحیتونه ددې جوګه نه ګڼل چې په شریعت کښې دماغ سوزي وکړي ، هغه د اسلام سره د هیڅ قسمه سابقې یا لاحقې لګولو ضرورت نه محسوسوو. او نه په دې لړ کښې دچا سره د هیڅ قسمه سودا کوي . هغه د شریعت په مقابله کښې نور ټول نظامونه او رواجونه غندي.'' (۱)

خوشحال بابا هم ددغه علمي سوچ په بنیاد خپل اولس ته تعلیم ورکړے دے. خلقو ته ئې ښه او بد په ګوته کړي دي. د خپلې شاعرئ په ذریعه ئې خلق د بدو کارونو نه منع کړي دي. د ښه کارونو کولو بلنه ئې ورکړې ده. د مخلوق تعلق ئې د خالق سره جوړ کړے دے. هغه په دې پوهه وۀ چې د هر نیک کار توفیق د الله په لاس کښې دے. د هدایت لار د الله په مهربانئ موندلے کیږي. هغه دا تعلیم ورکړے چې د قرآن په احکاماتو دې عمل وکړے شي او یو قدم هم د دې نه وړاندې وروستو

کېښودل پکار نهٔ دي. هم دغه د اسلامي شريعت د عملي کولو فکر د بابا دشعر خاصه ده . په دې حقله ستر خوشحال شناس پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک داسې رقم طراز دے .

'' د اسلامي شريعت په باب کښې د خوشحال نظريات بېخي واضحه دي. خوشحال شريعت بېخي زمونږ د خوږ نبي (ص) نقش قدم گڼي. د هغوي د ژوند ژواک طريقو ته اسلامي شريعت وائي. د هغوي ژوند د مسلمانانو دپاره ضابطه حيات گڼي .خوشحال هغه خلق کامياب او کامران گڼي چې د نبي (ص) په لاره گامزن وي. او د هغوي د لارې لرې هم اخوا دېخوا کېږي نه .''( ۲)

خوشحال بابا په کلام کښې دا خبره په ډاګه کړې ده چې څوک د قرآن او حديث په مقابله کښې د خپل عقل نه کار اخلي نو زوال به مومي. د مثال په توګه دا يو څو شعرونه چې بابا پکښې په ډېره شائېسته انداز کښې ددې خبرو تعليمورکړے دے.

مَن هُدالله ته نظر کړه
په من يُضلِل مې باور کړه

د طاعت توفيق له دهٔ دے
د عصمت توفيق له دهٔ دے

په دا باب قرآن ګويا دے
لار ښېونے د هدا دے

په قرآن دې عمل کاندي
پل دې نهٔ ږدي وروستو وړاندي

چې پـه خپل عقل څوک دِرومي
پـه دا لار بـه ذوال مـومي (۳)

خوشحال خان ختـک د الله پـه مینـه مست وۀ- پـه خپلـه شاعرئ کـښې ئې ځائـے پـه ځائـے د الله ثـنـا صفت کول خپلـه فریضه ګرځولـې ده-هغـه پـه دې حقیقت پـوهـه وه چې د ثـنـا صفت لائق صرف د الله ذات دے.الله د هرچا د کردارونـو نـه خبر دے. هر ځاے او هر چرتـه د الله قدرت او کرشمې موجود دي.هغه کـه حجر دے او کـه شجر دے یـو الله تـه پـه سجده او قیـام دے.د الله بـادشاهي لا زوالـه ده،هغه لا یـزال او ذوالـجلال دے. پـه دې لړ کـښې د بـابـا دا یـو څو شعرونـه

کُل ثـنـا پـه هغه ښایـي
چې ثـنـا ئې هر څوک وایـي

کـه څوک کُوز دےکـه څوک پـاس دے
د ده واړه پـه سپـاس دے

چې مـوجود تـر مـاهي مـاه دے
پـه وحدت د ده ګـواه دے

پـه سجود ورتـه حجر دے
پـه قیـام ورتـه شجر دے

سُلطنت ئـې لازوال دے
لا یـزال دے ذوالـجلال دے(۴)

خوشحال خان ختـک پـه هر مېدان کـښې د لـو ے الله نـه مدد غوښتـے دے. بـغېر د خـالـق نـه ئـې بـل چاتـه یـا غېرالله تـه د مدد لـه پـاره اواز کړے نـۀ دے. هغه پـه خپلـه یـوه حمدیـه قصیده کـښې د الله نـه مدد غواړي. د

ثناصفت عهد کوي. هغه د خپلې شېرين ژبانه شاعرى سبب د الله مهرباني گڼي.په ډېره عاجزى سره دا اقرار کوي چې زما وئېل ډېر اوومه دي،ستا د صفت لائق نۀ دي، زماد ژبې وئېل به ستا په فضل او کرم سره پخېږي. خوشحال بابا په خپله شاعرى کښې د الله نه سوال کوي،دُعا غواړي چې که چرې زما د لاس نه گناه اوشي نو د توبې په ذريعه زما گناهونه معاف کړه.د مثال په توگه دا شعرونه

زه مدام غواړم له تانه اے يوه خدايا اَحَد
که مدد دې راسره وي چار به نه شي زما بد

زه عاجز مرئيې د ستا يم،تا به ستا ئم ، ستا په فضل
ستا ثنا صفت به وائم ،څوزه توان لرم بې حد

زمکه سبع سموات دوانه کونه کائناته
واړه تا گُښي پېدا کړل بې د نورو له مدد

د خوشحال وئېل اوومه دي، لائق ستا د صفت نۀ دي
ستا په فضل به پخېږي دا اوومه وئېل اَحَد

خدايا ته زما پرده مه کړه پاره
بد مې مه کړه و عالم وته ښکاره

هغه لار چې د نېکى د نېکنامى ده
په هغه لاره مې بيايه هموار

که هر څو مې لوے گناه له لاسه اوشي
په توبه سره ئې ته کړه اواره (۵)

خوشحال بابا د خالق سره د مینې نه پس د خپل خوږ نبي حضرت محمد سره هم د مینې او محبت اظهارونه کړي دي- ډاکټر یار محمد مغموم په دغه اړه د خپلو خیالاتوڅرګندونه داسي کوي.

'' خوشحال بابا د رسول الله ډېر مداح وه . هغه د خدای د پېژندګلی دپاره د رسول الله واسطه ضروري ګڼي او دا ئې عقیده ده چې د رسول الله د مینې نه بغېر د الله پاک قرب نه شی حاصلیدے. د خان په رباعیاتو ، غزلو او قصیدو کښې ډېر نعتیه افکار موندے شي. ځنې غزلې او قصیدې ئې خاص په دغه موضوع وئیلي دي. ''(۶)

دخوشحال بابا ددغه شاعرانه اړخ د جوتولو په غرض دا یو څو نعتیه شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کولې شي .

ورک د خپلې خولې بوي بد کړه
بیا ثنا د محمد کړه

دې په ځان د علم کان دے
نازل شوے پرې قرآن دے

دے نزیر دے،د ے بشیر دے
شریعت ئې بے نظیر دے

په هر شان محمد ستایه
خو یو خدای ورته مه وایه(۷)

د خوشحال بابا په زړه کښې د خپل خوږ نبي حضرت محمد سره ډېره مینه وه. راځئ چې د بابا د یوې بلې نعتیه قصیدې دشعرونو نه هم

خوند واخلو چې هغه په ښومره اسانه او روانه پښتو ژبه کښې قلم ته سپارلي دہ.

د خدا ے عرفان مې اوشه په عرفان د محمد
پاک دے محمد،پاک دے سبحان د محمد

راشه نظر وکړه په طٰهٰ او يٰسين باندې
خدا ے دے صفت کړے په قرآن د محمد

ډير خلق پيدا دي انبيا که اوليا دي
نشته په خلقت کښې بل په شان د محمد

شط د رودِ نيل که د موسی په حکم اوشه
شق د قمر اوشه په فرمان د محمد

لاس دي لګولي ما خوشحال په دواړه کونه
غم اندوه مې نشته په دامان د محمد(٨)

خوشحال بابا په خپله شاعرۍکښې د مذهبي تعليم وركولو په غرض د دُنيا د بې ثباتۍ ذکر کړے دے. د قرآن او حديث نه ثابته دہ چې دُنيا فاني دہ، دُنيا بې وفا دہ، دُنيا د دهوکې کور دے.په دې دُنيا ډير خلق تير شوي دي، بادشاهۍ ئې کړي دي،خو اوس نشته. حقيقي بادشاه لوے الله د ے چې هميشه به وي . د دې دُنيا خوشحالي د يو څو ورځو دہ. ښومره ښومره خلق راغلل او لاړل.مونږه هم په دغه لار روان يُو. خوشحال بابا په خپله شاعرۍ کښې د ځينو ذکر کړے دے چې هغه خلق چرته لاړل، او مونږه ئې هم ويرولي يُوُ چې دُنيا پسې زړه مه تړئ،د حساب کتاب د ورځې دپاره تياري وکړئ. بابا په خپلو شعرونو کښې د يوسف ذُليخا،فرهاد شيرينۍ،بهرام، سکندر،دارا، جمشيد،شيداد، قارون،غزنوي،وامق، عُزرۍ او د داسي نورو ذکر کړے دے.دا يو څو شعرونه :

اے چې خیال کړے په دنیا
دنیا څه ده بې وفا

راحت نشته په دنیا کښې
الدنیا دارُالبلا

ساماني په دنیا هم وه
سلجوتي وه هم پېدا

غزنوي وه په غزني کښې
چې ئې کړلے هم غزا

په شېداد ئې فساد کړے
په قارون ئې وکړه لا

په جهان کښې مینه هم وه
د یوسف د زلېخا

که فرهاد وه که شېرینه
که وامق وه که عُزرئ

اوس ئې نخښې لیدے نۀ شي
دې جهان کړل فو فنا

نۀ به ګل د چمن پرېږدي
نۀ بلبله نۀ طوطا (۹)

دغه رنګه دا یو څو نور شعرونه

عاقلان چې په دنیا نه کا وتنه
د یقین په سترګو وینې تري وتنه

د سلېمان غوندې ئې پاسه په سر کېږده
نۀ قارون غوندې ئې ږده د زړه دننه (۱۰)

دخوشحال بابا د شاعرۍ یو بل جوت اړخ حقیقت پسندي ده. هغوي خپل کلام ته د حقیقت په بیان بې کچه ارزښت وربخښلې دے. د حقیقت لغوي او اصطلاحي مفاهیم ابوالاعجاز حفیظ صدیقي څه دا رنګ راښائي.

'' په لغت کښې ثابت شوي ته حقیقت وئیلې شي.
او د علم البیان له مخه په اصطلاح کښې دیو ټکي په خپله وضعي معنۍ کښې پکارونې ته وئیلې شي. حقیقت د مجاز متضاد دے. ''(۱۱)

دغه رنګ د حقیقت پسندۍ یا حقیقت نګارۍ په تړخ کښې پروفېسر فضل میر خټک لیکي

'' په ادب کښې د یو شي، یو سړي ، د یوې واقعې داسې بیان چې څنګه پېښه شوې وي ، څه ذاتي تاثر په کښې شامل نه وي ، په بیان کښې داسې الفاظ شامل نه شي چې څه بل رنګ واخلي ، چې څنګه وي هغه شان نقشه راښکلې شي، حقیقت نګاري ده. '' (۱۲)

خوشحال بابا خپله یو حقیقت پسند انسان وه، هم دا وجه ده چې د هغوي شاعرۍ د حقیقت نه ډکه او برجته ده. هغوي د خپلې شاعرۍ په ذریعه خپلو لوستونکیو ته یو نۀ پټېدونکے حقیقت ښودلے دے. د خوشحال بابا دغه شاعري هم مذهبي رنګ لري او د حقیقت څرګندونه کوي.

چې ترس ئې د زړه نۀ وي، نۀ عمل لري د نېکو
په دا ئې نظر مه کړه که په ياد لري قرآن

عيسیٰ په معجزه سره ړاندۀ سري بينا کړل
دانا ئې په دعا نۀ شۀ په عمر يو نادان

چې ستا عېب وتاته وايي يار هغه دے
نۀ چې نورو وته عېب اووايي ستا

چې خپل بار په هېچا نۀ ږدي،بار د بل وړي
هم هغه سړے لائق دے د ثنا

چې سل په زړه لري يوه په ژبه
هغه دي پرېوځي په لويه تبه

چې زړه او ژبه سره يک رنګ لري
هغه به خلاص شي له معائبه (۱۳)

د خوشحال بابا ټولي علمي، مذهبي او حقيقي شاعرۍ د يو پورا نصاب شکل اختيار کړے دے. هغه شاعري صرف د خان د پاره راوړي نۀ ده بلکې د اولس د پاره ئې تخليق کړے ده چې عبرت ترې واخلي. د بابا په شاعرۍ کښې يو حقيقي پېغام دے. دغه پېغام بابا په ډېره پسته او خوږه لهجه کښې اولس ته رسولے دے. او په ادبي تاريخ کښې ئې خان په ډېرو حوالو امر کړے دے.

## حواله جات :


۱: حېران خټک، خوشحال د اسلامي شريعت علمبردار ، پښتو ، پښتو اکېډېمي پېښور يونيورسټي ، ۱۹۸۰ء ، ۲۷۳ مخ

۲: خټک، ډاکټر اقبال نسيم ، پروفېسر، د تاند او بهاند تخيل شاعر ، پښتو

اکېډمي کوټه، ۲۰۱۴ء ، ۲۰۶ مخ

۳: بريکوټي،شېر افضلخان،دپښتوشعروادب تاريخ،پښتو اکېډمي،پېښور

يونيورسټي،۱۹۹۵، مخ ۲۳۱.

۴: هم دغه اثر، ۲۳۱ ، ۲۳۲ مخونه

۵: خوشحال ريويو،مجله، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، مخونه ۲۰۶،۲۰۵

۶: خټک ، ډاکټر يار محمد ، پروفېسر ، د خوشحال بابا کليات ، يونيورسټي

بک ايجنسي پېښور ، ۲۰۱۶ ء ، ۸۲ مخ

۷: د پښتو دشعر و ادب تاريخ ، از شېر افضل خانبريکوټي، مخ ۲۳۲-

۸: خټک ، خوشحال خان ، کليات خوشحال خان خټک ، مرتبه دوست محمد

کامل ، اداره اشاعت سرحد، پېښور ۱۹۶۰ ء ۵۱۶

۹: خټک ، خوشحال خان ، ديوان خوشحال خان خټک ( اوله حصه) مرتبه حاجي

پردل خان خټک ، اداره ثقافت صوبه سرحد، س ن ۵۴۵ ، ۵۴۶ مخونه

۱۰: کليات خوشحال خان خټک ، مرتبه دوست محمد کامل ۶۰۱ مخ

۱۱: ابوالاعجاز، حفيظ صديقي ، ادبي اصطلاحات کا تعارف، اسلوب لاهور

اردو بازار لاهور ، ۲۰۱۵ء ، ۲۰۵ مخ

۱۲: خټک، فضل میر، پروفېسر، فضلیات ، اعراف پرنټرز پېښور ۲۰۲۰، ء ،
۲۳۸ مخ

۱۳: دپښتودشعروادبتاریخ،شېرافضل خان بریکوټي ، مخونه،۲۳۹،۲۳۴،۲۳۳


Pukhtunkhwa Journal